# د لوړو زده کړو وزارت
# تابش پوهنتون
# حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

## مضمون: ادیان او مذاهب

## اتم درس «هندویزم»

استاد: محمد اسلم صمیم

# د تیر ساعت کورنۍ دنده کتل

د درس څخه وړاندې پوښتنې:

- هندویزم کوم دین دی؟
- مشهور عقاید یې څه دي؟
- خدایان یې څوک دي؟
- اسلام یې په اړه کوم دریځ لري؟

دا موضوعات به په دې درسي ساعت کې روښانه شي.

# د غیر آسماني شرقي ادیانو پېژندنه

## هندوواله یا هندویزم

هندوواله یو بتپاله دین دی، چې د هندوستان زیاتره وګړي یې پیروان دي، د میلاد څخه ۱۵ پېړۍ وړاندې پیل او تراوسه پورې دوام لري ، په ظاهري ډول هندویزم د عادتونو او رواجونو ټولګه ده او تقریبا یو میلیارد پیروان لري.

**رامنځته کېدل:**

هندويزم، د نړۍ يو له پخوانيو مذهبونو څخه ګڼل کېږي او د دې مذهب بنسټ ته کره تاريخ نشته. د څېړنو له مخې، هندويزم شاوخوا 1500 ق.م. يا تر دې وړاندې په هند کې رامنځته شوی دی. د دې مذهب لومړني مذهبي متونه چې ويداګان نومېږي، په همدې وخت کې ليکل شوي او د هندويزم بنسټيز اصول بيانوي. په هندويزم کې ډېر بېلابېل دودونه او نظريې شاملې دي، او د وخت په تېرېدو سره يې بڼې بدلې شوې.

## د هندوانو عقاید او باورونه

د هندوانو عقایدو شمېر معلوم نـه دی، دوی د مختلفـو ژونـدیو او غیر ژوندیو شیانو عبادتونه کوي، مگر په ټولو کې ډېر زیات ارزښتناک ورته د غواگانو عبادت دی، گانـدي وایـې: غـوا زمـا مور ده او زما په حقیقي مور باندې ډېر فضـیلت لـري، مصـرف یې لږ او گټه یې زیاته ده.

د تناسخ عقیده هم لري یعنې د نېکـانو روحونـه د مـرگ څخـه وروسته په غوا او مېښو کې داخلېږي او د بدانو روح په سپیو او پیشو گانو کې داخلېږي.

## د هندوانو عقاید او باورونه...

دوی د حلول او وحدت الوجود عقیدې هم لري، وحدت الوجود کې خدای او کائنات یو شی ګڼل کیږي، په داسې حال کې چې حلول کې خدای په هر شي کې موجود دی، خو له کائنات څخه لوړ او بیل دی.

د مړي سوځول دوی یو عقیدوي عمل ګڼي هندوان مړي د دې لپاره سوځوي چې دوی باور لري بدن یو فاني او ناپاکه پوښ دی، او روح له دې پوښ څخه د پاکوالي لپاره خلاصیږي. د مړي سوځول دوی ته د روح د پاکوالي او د بیا ژوند (تناسخ) په پروسه کې مرسته کوي، ترڅو روح بیا په نوې بڼه کې نړۍ ته راستون شي، او داسې نور ډېر ناسم عقاید.

## د هندوانو مقدس کتابونه

هندوان د نورو ادیانو په څېر کتابونه هم لري چې په لاندې ډول ذکر کېږي:

ويد: د هندوانو ترټولو سپیڅلی کتاب وید نومېږي، وید د سنسکریټ ژبې لغت دی او د علم او حکمت په معنی دی، ډېر پخوانی کتاب دی مؤلف یې معلوم نه دی، وید په څلورو برخو ویشل شوی دی:

1.رګ ویدا (Rigveda): دا تر ټولو زوړ ویدا دی او په کې مناجاتونه او سرودونه دي چې خدایانو ته یې په عاجزی سره وړاندې کوي. اوس یې هم ځینې حمدونه په غونډو او نکاح ګانو کې لولي.

2.سام ویدا (Samaveda): په دې ویدا کې د موسیقۍ او نغمو لپاره ځانګړي سرودونه او مناجاتونه شامل دي، چې هندوانو یې د لمونځ او دعاګانو په مهال لولي.

3. یجور ویدا (Yajurveda): دا ویدا د مذهبي مراسمو او د قربانیو پر مهال د کارېدونکو لارښوونو او دعاګانو مجموعه ده.

4.اتهر ویدا (Atharvaveda): دا ویدا په عمومي ډول د جادو، طبابت، او ټولنیزو چارو په اړه لارښوونې او دعاګانې لري.

**د ویداګانو په هندویزم کې لوړه مذهبي او روحاني ارزښت لري او په کې د هندوانو د لومړنیو عقیدو او فلسفې ژورې موضوعګانې بیان شوې دي.**

## د منوشا قوانین

د منوشا قوانین د هندوانو د ژوند لپاره ترتیب شوي اصول دي چې د میلاد څخه دوه پېړۍ وړاندې لیکل شوي دي د وید شرحه ده، هندوان ورته ژمن دي او د ژوند بقا په کې وینې چې بېلګې یې په لاندې ډول دي:

1 -هغه انسان چې په خپل نفس غالب شي په حواسو غلبه پیدا کوي او بالاخره د شر څخه ژغورل کیږي.

2 -انسان ته چې څه ورکړل شوي یا نه دي دواړو کې یې خیر دی.

3 -په شاګردانو لازم دي چې له خوړو شیانو، غوښې، ښځو او خوش بوی څخه ځان وساتي په سؤال او ګدایي به ځان عادت کوي.

4 -کله چې شیخ شي بنده‌تی ته ورسیږي له کور څخه به ځان ساتي، ځنګل کې به اوسیږي، ږیره بریت نوکان به نه کموي.

5 -بوټي او کیا به خوري مېوه به هم لویدلې خوري.

6 -تېز لمر او باران ته به کېني.

7 -د خپلې ارامتیا او راحت فکر به نه موي د مې منې سره به نه ویده کیږي او ته ځمکې به ځملي.

8 -کله چې تګ کوي په ویره به وي خوښۍ او غم به نه خوښیږي او نه به غمجنیږي.

**په منو شاستر کې د هندویزم ټولنه په څلورو لویو طبقو یا کاسټونو وېشل شوې**، چې هره طبقه ځانګړې دندې او مسوولیتونه لري. دا څلور طبقات په لاندې ډول دي:

1. برهمن (Brahmin): دا تر ټولو لوړ طبقه ده او د دیني، مذهبي، او علمي چارو مسؤلیت لري. برهمنان د روحانیت، تعلیم، او مذهبي مراسمو ترسره کولو لپاره ګمارل شوي دي. دوی د ټولنې د اخلاقي لارښوونې دنده لري او د زده کړو او حکمت سرچینه ګڼل کېږي.

2. کشتریا (Kshatriya): دا طبقه د جنګیالیو، پاچاهانو، او حکومتي چارواکو ده. کشتریا د ټولنې د ساتنې، امنیت، او حکومتولۍ مسوولیت لري. دوی په جګړو کې د خپل هېواد او خلکو د ساتنې لپاره روزل کېږي.

3. ویشیا (Vaishya): د سوداګرۍ، کرنې، او سوداګریزو چارو طبقه ده. ویشیان د اقتصاد د چلولو، سوداګرۍ، کرنې، او څارویو ساتلو مسؤلیت لري. دوی د ټولنې د اقتصادي ودې مهم برخه ګڼل کېږي.

4. شودرا (Shudra): دا د خدمتګارانو او کارګرانو طبقه ده، چې د نورو درېیو طبقو لپاره خدمتونه ترسره کوي. شودرا ته اجازه نه ورکول کېږي چې مذهبي مراسم ترسره کړي یا لوړ مقامونه ولري، او د دوی اصلي دنده د نورو طبقو ملاتړ او مرسته ده.

دا طبقاتي نظام د خلکو د دندو او ټولنیزو مقامونو تر منځ یو جلاوالی رامنځته کوي، چې د ټولنیز نظم او دندو وېش ته لار هواروي.

## د هندویزم اصلي او لوی ځایونه لاندې دي:

1.هند: هند د هندویزم د اصلي او مرکزي سیمې په توګه پېژندل کیږي. دلته د هندوي مذهبي ځایونه، معابد، او روحاني مرکزونه لکه بنارس (واراناسي)، هریدوار، او آګرا شامل دي.

2.نیپال: نیپال هم د هندویزم لپاره یو مهم ځای دی، په ځانګړې توګه د کاټمنډو دره، چې د هندو دین د مقدس ځایونو یوه ډله لري، لکه پشپاتینات او سویمبو نات.

3.اندونیزیا: د بالي ټاپو، چې هندوي مذهبي کلتور لري، د اندونیزیا په هندویزم کې د پام وړ ځای دی.

4.سریلانکا: د انوراداپورا او کاندی ښارونه د هندویزم د مقدس ځایونو په توګه پېژندل کیږي.

5.بنګله‌دېش: د هندوي مذهبي ځایونه لکه داکا او خولنا د هندویزم د پراختیا او دودونو سره تړاو لري.

دا ځایونه د هندوي مذهبي او کلتوري پېښو او مراسمو لپاره مهم او مشهوره مرکزونه ګڼل کیږي.

## د هندوانو خدای: برهمه، وشنو، شیوا..

هندوانو ته خدای (یا خدایان) مختلف او ځانګړي مفهومونه لري. په هندویزم کې، دوی د متعددو خدایانو او الهی شتونونو په پیروي ټینګار کوي. ځینې مهم مفاهیم او باورونه عبارت دي له:

1.برهمه: په هندویزم کې د خالق خدای په توګه پېژندل کېږي او باور کېږي چې د کایناتو او ټولو ژوندیو موجوداتو خالق دی. برهمه ډېر درناوی لري، خو په پراخه توګه د خلکو لخوا عبادت نه کېږي.

2.وشنو: د ساتونکي خدای په توګه پېژندل کېږي چې د نړۍ نظم او ثبات ساتي. وشنو په هندوانو کې ډېر محبوب دی او په بیلابیلو بڼو کې ظهور کړی، چې هر بڼه یې "اوتار" بلل کېږي، لکه کرشنا او رام.

3.شیوا: شیوا د تباهۍ او تجدید خدای دی. هغه د کائنات د تباهۍ او بیا جوړولو مسؤل دی.

## د هندوانو خدای: برهمه، وشنو، شیوا..

4.د خدایو مختلفي بڼې: هندوانو کې ګڼ شمېر خدایان او الهیانې شته، لکه دیوی (مادري خدایه) چې د ښځو او زېږون او زوېونو لپاره مهمه ده.

5.تعدد: هندویزم د خدایانو په تعدد ټینګار کوي، او هر خدای ځانګړې بڼه، صفتونه او وظایف لري.

6.د آتمن مفهوم: هندوان د "آتمن" (خود) مفهوم هم لري، چې د فرد روح ته اشاره کوي. د دوی په اند، آتمن د خدای د یوې برخې په توګه ګڼل کېږي، چې د مادې څخه جلا دی.

هندویزم د روحانیت، مختلفو رسوماتو او د کائنات د فلسفې یوه پېچلې بڼه وړاندې کوي، چې د خلکو په نظر کې خدای او الهیت په مختلفو بڼو شتون لري.

**لنډیز**

هندوانو ته خدای مختلف مفهومونه لري:

1.براهما: د کائنات خالق.

2.ویشنو: د ساتونکي خدای، چې د مختلفو او avatarونو په شکل راځي.

3.شیوا: د تباهۍ او تجدید خدای.

4.تعدد: هندوان ګڼ شمېر خدایان او الهیاني لري، هر یو یې ځانګړي صفات او وظایف لري.

5.آتمن: د فرد روح، چې د خدای د یوې برخې په توګه ګڼل کیږي.

هندویزم د خدایانو په تعدد او روحانیت باندې ټینګار کوي.

وشنو په هندوانو کې ډېر محبوب دی او په بیلابیلـو بڼـو کـې ظهور کړی، چې هر بڼه یې "اوتار" بلل کېږي، لکـه کرشـنا او رام...



گنیش: دا په هندو مذهب کې د حکمت او پوهې خدای بلل کېږي.



## د هندوانو مهم عبادتونه عبارت دي له:

1. پوژا (Puja): د خدایانو لپاره نذراني وړاندې کول.
2. یګیا (Yajna): د قربانۍ مراسم د اور پر وړاندې.
3. مندر ته تګ: د معبد ته تلل او عبادت کول.
4. مناجات او دعا: د خدایانو سره اړیکه ټینګول.
5. فستونه (Vrats): ځانګړو ورځو لپاره خوراک نه خوړل.
6. جشنونه: لکه جنم اشټمي او دیوالی د خدایانو د زیږون لمانځل.
7. پروکشن (Pradakshina): د خدای مجسمې ته دورې وهل.

دا عبادتونه د روحانیت او د خدایانو سره د اړیکو ټینګولو لپاره ترسره کیږي.

## د هندوانیزم په اړه د اسلام دریځ:

اسلام د ټولو دینونو څخه غوره او حق دین دی، اسلام د هندویزم په اړه دا دریځ لري چې هندویزم یو شرکي دین دی او له اسلام سره لاندې توپیرونه لري

1. توحید: اسلام د الله (سبحانه وتعالی) یوازی والی ته ټینگار کوي، پداسې حال کې چې هندویزم د خدایانو په تعدد باور لري. مسلمانان د هندوانو د خدایانو عبادت ته د شرک په توگه گوري.

2. پیغمبران: اسلام د پیغمبرو د سلسلې پر بنسټ ولاړ دی، چې د الله په غوښتنه پیغامونه لیږدوي. مسلمانان د هندویزم په اړه د پیغمبرو او وحیو د نشتوالي نظر لري.

3. کتابونه: اسلام د قرآن د مقدس کتاب په توگه پېژني، چې د الله کلام دی، پداسې حال کې چې هندویزم کې مختلف متونه شته، لکه ویدونه او اوپنشادونه.

# هنـــدو ســـتړی

# خدای ناراضه!!!

د هند د سخي وصیت نامه:
د هند سخي ملیاردر رتن ټاټا چې څو ورځې وړاندې ومړ، تازه
یې وصیت نامه رسنیزه شوې.
هغه وصیت کړی چې له نغدي سرمایې نه یې باید لس زره
کروړه هندي کلداري د نږدې خپلوانو تر څنګ د دفتر
کارمندانو باندې هم وویشل شي.
خپل ټول ګټلي ایوارډونه یې د هند ملي ارشیف ته وقف
کړي چې راتلونکي نسلونه ترې بشر ته خدمت زده کړي.
د خپل دفتر رییس شنتانو نایډو ته یې خپل کاروبار کې لویه
حصه بخښلې او د کور ټولو خدمتګارانو، اشپزانو او ډریورانو
ته یې جایدادونه ورکړي.
خپل دیرش قیمتي موټر یې خیریه بنسټونو ته وقف کړي او
د ټاټا اینډ سنز ګروپ کې یې خپل اسهام پر خپلوانو نه دي
ویشلي، بلکې د ده اسهام به تل تر تله خیریه کارونو باندې
مصرفیږي.



Imad Safi and 7.7K oth... 849 Comme...

7.7K 849 84

الله تعلی دې موږ ته په اسلام باندې

ثبات راکړي، آمین

